شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۰۷ ګڼه / شنبه ۱۵ رمضان‌المبارک ۱۴۴۶ هـ.ق / د کب ۲۵ مه ۱۴۰۳ هـ.ش / ۱۵ مارچ ۲۰۲۵ میلادي

د بهرنیو چارو وزارت:
پاکستان دې له بې بنسټه څرګندونو په کلکه ډډه وکړي

د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي ویلي، بلوچستان ایالت کې پر مسافر ورونکي اورګاډي د برید په تړاو د پاکستاني پوځ ویاند هغه بې بنسټه تورونه چې ګوندې ددې پېښې تړاو له افغانستان سره دی؛ په کلکه ردوي.

اسلامي امارت بیاځلې له پاکستاني لوري غوښتي چې د داسې غیرمسئولانه څرګندونو پر ځای خپل امنیت او د کورنیو ستونزو حل ته پام واړوي.

د نوموړي په وینا، هېڅ بلوڅ مخالفې ډلې غړي په افغانستان کې شتون نه لري او نه یې هم پخوا یا اوس له اسلامي امارت سره اړیکي لرلي دي.

دې اعلامیه کې وړاندې ... ۳مخ

افطار : ۶:۵ سحر: ۴:۳۳

عمان کې د افغان بندیانو د ازادولو هڅې

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي عمان ته د خپل سفر په ترڅ کې د دې هېواد د سلطان د دفتر وزیر سربېره د سوداګرۍ او پانګونې خونې مشرانو او د اوقافو او دیني چارو له وزیرانو سره جلا جلا غونډې کړې دي.

یاد وزارت وایي، چې ښاغلي متقي د عمان د سلطان د دفتر له وزیر څخه د افغان بندیانو د ازادولو غوښتنه کړې ده.

د وزارت د خبر له مخې، د عمان سلطنت وزیر ژمنه کړې چې په نږدې راتلونکي کې به په ځانګړو مناسبتونو کې په هغه هېواد کې د افغان بندیانو د خلاصون لپاره د عفوې زمینه برابره کړي.

دغه راز د عمان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له مشرانو ... ۳مخ

مولوی ذبیح الله مجاهد:
در نظام امارت اسلامی هیچ‌کس تشویش تلف شدن حق خود را نداشته باشد

مولوی ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی می‌گوید، در نظام اسلامی کنونی در کشور هیچ‌کس تشویش تلف شدن حقوق خود را نداشته باشد.

سخنگوی امارت اسلامی این سخنان را در پیوند به احضار استاد یک مرکز آموزشی از بهر لت‌وکوب یک دانش‌آموز در برابر ده‌ها دانش‌آموزش دیگر در صنف‌درسی و معذرت‌خواهی آن استاد از دانش‌آموز و اعضای خانواده‌اش، گفته است.

او افزوده که وقتی در نظام اسلامی حق لت‌وکوب یک دانش‌آموز بگونه جدی تعقیب ... ص۳

د ملي دفاع د سرپرست وزیر په مشرۍ د امنیت او تصفیې لپاره مهمې پرېکړې وشوې

د ملي دفاع وزارت سرپرست او د امنیتي او تصفوي کمېسیون مشر ملا محمد یعقوب مجاهد په مشرۍ په کندهار کې د یاد کمېسیون غونډه وشوه.

یاد کمېسیون وایي، په دې غونډه کې د امنیتي چارو په لا پیاوړتیا، په تصفیوي بهیر کې په دقت او روڼتیا، د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزې، د جرمونو پر وړاندې د کوټلو ګامونو پورته کولو او د پولو د خوندیتوب په اړه ... ۳مخ

هرات کې څه باندې ۳۳ زره جریبه ځمکه دولتي تثبیت شوه

د عدلیې وزارت په هرات کې د ۳۳ زره او ۴۹۲ جریبه امارتي ځمکې له تشخیص او تثبیت څخه خبر ورکړی دی.

یاد وزارت وایي، چې دغه ځمکه د هرات د ګذرې ولسوالۍ د جغرات، سفید بر او رباط سفچه کاریزونو ساحو کې د څه باندې ۳۴ زره ۲۸۰ جریبه ځمکو له جملې ۳۳ زره ۴۹۲ جریبه ځمکه امارتي تشخیص او تثبیت شوې ده.

د یادونې وړ ده، چې دغه دولتي ځمکه د هرات ولایت د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي تخنیکي پلاوي د رییس او غړو د غونډې په ترڅ کې په ډاګه شوې ده.

خوست کې له اړمنو کورنیو سره نغدي مرستې شوې

د خوست مقام مطبوعاتي دفتر ویلي چې ددې ولایت په ځاځي میدان ولسوالۍ کې له ۶۸۹ اړمنو کورنیو سره نغدي مرسته شوې ده.

دا مرسته د خوست د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست په همغږۍ، د نړیوال خوراکي پروګرام په مالي مرسته او د ګالو موسسې په تخنیکي همکارۍ ترسره شوې ده.

د خوست ولایتي مسئولینو ویلي چې په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۲۹۰۰ افغانۍ ورکول شوي.

سر مقاله

افغانستان؛ ګرځندویانو سره د سالم چارچلند او خوندي چاپېریال نوم

دا خوله هېڅ پټه نه ده چې ګرځندوی نن سبا په ټوله نړۍ کې د ډېر عایدلرونکي صنعت نوم ګټلی او د ماشینرۍ له صنعت وروسته ډېره پانګه دې صنعت کې کیږي. ګرځندوی او توریزم یوازې مادي امتیاز نه لري؛ بلکې ګڼې معنوي ګټې هم ورپورې تړلې دي. هر ګرځندوی په حقیقت کې د هغه هېواد سفیر دی.

اوسنۍ نړۍ کې توریزم د اقتصاد د یوې بنسټیزې پایې او د یوه باثباته فکتور په توګه یادېږي او اهمیت یې ورځ په ورځ زیاتېږي. معاصرې نړۍ کې د عاید د لاسته راوړلو لارې چارې بدلې او متفاوتې شوي. وړاندې مو وویل چې له دې صنعت سره دواړه(مادي او معنوي) امتیازات غوټه دي. ویل کیږي چې ایران اوسمهال له نفت و ګازو(ایران کې ددې او نورو انرژي تولیدونکو زخیرې پرېمانه دي.) دومره عاید نه ترلاسه کوي، لکه څومره چې یې د حافظ، سعدي، فردوسي او نورو شاعرانو او حکیمانو له زایرینو ترلاسه کوي.

کله چې څوک د سیل او چکر په موخه یوځای ځي، نو په غوښتلې او ناغوښتلې بڼه د هغه هېواد له دین، ژبې، تاریخ، هڅوب(کلتور) او د هغه ځای د اوسېدونکو چارچلند ویني او بیا یې خپلو خلکو ته اوروي. په دې وروستیو کې یوه ویډیو لاس په لاس شوې چې یو فلسطینی کابل ته راغلی، خو د افغانانو له خورا ستایونکي چلند سره مخ دی. له ده هټۍوال د اوبو پیسې نه اخلي، بل ځای د کیشتې اوبه پلورنکی پیسې ترې نه اخلي او د مېلمه په سترګه ورته ګوري. مېلمه پالنه، سخاوت او پت د افغانانو د کلتور برخې دي. یاد فلسطینی به حتمي د افغانانو دا خورا ښه انځور خپلو خلکو او نړۍ ته وړاندې کوي. زایرین او ګرځندویان نورو هېوادونو ... ۳مخ

داسلامي اقتصادي نظام اصول، تاریخ او معاصر تطبیق
۲مخ

روابط دوجانبه افغانستان و عمان؛ فصل جدید همکاری‌ها
ص۲

د غزني د حوزوي روغتون پاتې چارې بشپړېږي

د غزني والي مولوي عبدالصمد جاوید د عامې روغتیا له وزیر مولوي نور جلال جلالي سره په کتنه کې د یاد ولایت د حوزوي روغتون د پاتې چارو بشپړېدو غوښتنه کړې.

نوموړي زیاته کړې چې راتلونکی کال باید د دې ولایت لپاره د روغتیا په برخه کې بودیجه زیاته شي.

بلخوا، د عامې روغتیا وزیر په یاد ولایت کې د روغتیایي خدمتونو د پراختیا او د ستونزو د حل ډاډ ورکړی دی.

یو بل سیلاني هم د اسلام مبارک دین ومانه

د فالز جېمز په نوم د بریټانیایي ګرځندوی د کندهار ولایت په مرکز کې د اسلام د حقیقت له درک وروسته اسلام قبول کړ.

ځایي سرچینې وایي، جېمز چې اوس د محمد ادریس په نوم پېژندل کېږي، د کندهار د خرقې مطهرې ریاست په بلنه مسلمان شو. نوموړی وایي، چې ... ۳مخ

یک شرکت جرمنی روی ساخت جاده‌ها در افغانستان سرمایه‌گذاری می‌کند

وزارت معادن و پترولیم می‌گوید، مسوولین شرکت «ترستکول میدل ایست» از شرکت‌های کشور آلمان برای سرمایه‌گذاری ۴۰۰ میلیون دالر روی ساخت جاده‌ها در افغانستان ابراز آمادگی کرده است.

بربنیاد خبرنامه، داکتر محمد درخشان، رئیس شرکت یادشده در دیدار با ملا محمد عیسی ثانی، سرپرست وزارت فواید عامه گفته که در ازای دریافت مواد معدنی افغانستان این سرمایه‌گذاری را انجام می‌دهد.

در خبرنامه آمده که آقای ثانی از این طرح شرکت «ترستکول میدل ایست» استقبال کرده و گفته که پس از مشوره با رهبری امارت اسلامی پیشنهاد ارائه شده بررسی خواهد شد.

سرپرست وزارت فواید عامه افزوده، سرک‌های غور-هرات و بادغیس-فاریاب، از ... ص۳

د اسلامي اقتصادي نظام اصول، تاريخ او معاصر تطبيق

محمد قاسم عزام

اسلامي اقتصاد يو ځانګړی نظام دی، چې د اسلام د اصولو او ارزښتونو پر اساس ولاړ دی. دا نظام د انسان د مادي او معنوي اړتياوو پوره کولو ته ځانګړې پاملرنه کوي او د عدالت، امانت، صداقت او ټولنيزې هوسايني اصولو ته ژمن دی. اسلامي اقتصاد نه يوازې د ګټې اخيستو پر بنسټ جوړ شوی، بلکې د ټولنيز عدالت، د ثروت عادلانه وېش او د افرادو ترمنځ متقابل مسئوليت ته هم توجه کوي. قرآن کريم او سنت د اسلامي اقتصاد د اساسي بنسټونو سرچينې دي او دا نظام د شريعت له احکامو سره سم د معاملاتو، سوداګرۍ، پانګونې او ټولنيزو مرستو اصول جوړوي. د اسلامي اقتصاد بنسټونه څو مهم اصول لري، چې ټولنيز عدالت، شفافيت، اقتصادي انحصار ته نه ويلو او د طبيعي سرچينو عادلانه استعمال په کې شامل دي. د دې نظام موخه يوازې فردي شتمني نه ده، بلکې ټولنيزه هوساينه او د ټولنې د بېوزلو ملاتړ ته هم ژمن دی. پانګونه، سوداګري او د اقتصادي فعاليتونو بنه بايد له اسلامي اصولو سره مطابقت ولري، ترڅو ټولنيز تعادل وساتل شي او اقتصادي نابرابري رامنځته نه شي.

د سود (ربا) حراموالی او اقتصادي بديلونه

اسلامي اقتصاد د سود (ربا) د له منځه وړلو لپاره يو واضح دريځ لري، ځکه چې سودي سيستم اقتصادي نابرابري رامنځته کوي، شتمني د يو محدود قشر په لاس کې متمرکزه ساتي او د ټولنې د بېوزلو پر زيان تمامېږي. قرآن کريم په ښکاره ډول سود حرام ګرځولی، چېرته چې الله تعالی فرمايي: -"الله تجارت حلال کړی او سود يې حرام ګرځولی." (البقرة: ۲۷۵) سودي نظام نه يوازې اقتصادي بې‌عدالتي زېږوي، بلکې ټولنيز اختلافات هم زياتوي، ځکه چې پانګوالو ته له زحمته پرته ګټه ورکوي، خو پور اخيستونکی له مالي ستونزو سره مخ کوي. اسلامي اقتصاد د سود پر ځای عادلانه بديلونه وړاندې کوي، چې د مشارکت، مضاربت، مرابحه او قرض حسن سيستمونه په کې شامل دي. مشارکت هغه ته ويل کېږي ، چې پکې دواړه اړخونه (پانګوال او کارکوونکی) د ګټې او تاوان مسؤليت شريکوي. مضاربت د سوداګريزې پانګونې بله بڼه ده، چېرې چې يو اړخ پانګه برابروي، او بل اړخ يې د کار له لارې وده ورکوي او ګټه په عادلانه ډول وېشل کېږي. مرابحه يوه شفافه تجارتي معامله ده، چيرې چې يو شخص يا بانک توکي اخلي، بيا يې د يوې موافقې مطابق له ټاکلي سود پرته پر قسطونو پلوري. قرض حسن د اسلامي مالي نظام يوه ځانګړې بڼه ده، چې په کې له ګټې پرته پور ورکول کېږي، ترڅو اړمن کسان مالي اسانتيا ترلاسه کړي. د اسلامي اقتصاد دا بديلونه د دې لپاره دي چې د پانګوالو، سوداګرو او عامو خلکو ترمنځ عادلانه اقتصادي مشارکت رامنځته کړي. دا سيستم شفافيت، اقتصادي عدالت او ټولنيزه وده تضمينوي، ځکه چې د پانګونې او سوداګرۍ ټول اصول د اخلاقي ارزښتونو پر بنسټ جوړ شوي.

د زکات، وقف او صدقې اقتصادي اثرات

اسلامي اقتصاد نه يوازې د سود مخنيوی کوي، بلکې د ټولنيز عدالت لپاره د شتمنۍ عادلانه وېش ته ځانګړې پاملرنه کوي. زکات، وقف او صدقه د اسلامي مالي نظام درې اساسي ستنې دي، چې د ټولنيز سوکالۍ، اقتصادي انډول او د بېوزلو ملاتړ لپاره مهم رول لري. زکات يو مکلف مالي عبادت دی، چې شتمن خلک يې ورکوي، ترڅو د ټولنې کمزوري قشرونه اقتصادي ملاتړ ترلاسه کړي. الله تعالی فرمايي: "او د دوی په مالونو کې د سوالګر او محروم حق دی." (الذاريات: ۱۹) دا نظام د شتمنۍ تمرکز ماتوي، د پانګوالو احتکار له منځه وړي او د اقتصادي نابرابرۍ مخنيوی کوي. وقف د اوږدمهاله اقتصادي ودې لپاره يو باثباته بنسټ دی. د وقف مال يا ملکيت د ټولنې د عامه ګټو لپاره وقفېږي او عايد يې د بېوزلو، تعليمي مؤسسو، روغتيايي خدماتو او د ټولنيز رفاه پروژو لپاره کارول کېږي. وقف د اسلامي تمدن په اوږدو کې د علم، معيشت او اقتصادي پياوړتيا لپاره مهم رول لوبولی، او لا هم کولای شي چې د معاصر اقتصاد د انډول لپاره مؤثر وکارول شي. صدقه، که اجباري وي (لکه زکات) يا اختياري (لکه خيريه مرستې)، د ټولنيز مسئوليت روحيه پياوړې کوي او د اقتصادي فشارونو کمولو کې مرسته کوي. دا نه يوازې د شتمنو او بېوزلو ترمنځ فاصله راکموي، بلکې د عامو خلکو اقتصادي ظرفيت لوړوي، ځکه چې د هغوی اساسي اړتياوې پوره کېږي، چې ورسره د کار کولو فرصتونه هم زياتېږي. دا درې مالي سرچينې د معاصر مالي نظام لپاره مهمې حللارې دي، ځکه چې د دوی له لارې د شتمنۍ توازن، د فقر کمښت او اقتصادي عدالت ممکن کېږي. دا سيستم د مصرف او پانګونې ترمنځ يو اعتدال رامنځته کوي، د ټولنيز امنيت بنسټ قوي کوي او د اقتصادي بحرانونو پر وړاندې د ټولنې مقاومت زياتوي.

د معاصر مالي نظام اصلاح ته اسلامي حللارې

معاصر مالي نظام د بې‌عدالتۍ، سود او مالي نابرابرۍ له ستونزو سره مخ دی، چې اقتصادي بحرانونه، انفلاسيون او د شتمنۍ غيرعادلانه وېش رامنځته کوي. اسلامي اقتصاد د دې ستونزو د حل لپاره داسې اصول وړاندې کوي، چې د عدالت، شفافيت او ټولنيز سوکالۍ پر بنسټ ولاړ دي.

اسلامي حللارې د سود پر ځای د حقيقي سوداګرۍ او شراکت پر بنسټ ولاړې دي. سودي سيستم اقتصاد ته ضرر رسوي، ځکه چې شتمني د حقيقي توليد پر ځای د مصنوعي پورونو او مالياتي ابزارو له لارې توليدېږي، چې د مالي بحرانونو سبب ګرځي. اسلامي اقتصاد د پانګوالو او کارګرانو ترمنځ عادلانه شراکت ته لومړيتوب ورکوي، چې د مضاربت او مشارکت سيستمونه يې ښه بېلګه ده.

د زکات، وقف او غير سودي مالي سيستم پراخ تطبيق د اقتصادي اصلاحاتو لپاره مهم ګامونه دي. که د اسلامي اصولو مطابق د مالي جريان تنظيم شي، نو د پانګوالو تمرکز به يوازې پر شخصي ګټو نه وي، بلکې د ټولنې عمومي اقتصادي انکشاف ته به هم وده ورکړي. د زکات مناسب تنظيم، د وقف ادارو عصري کول او د اسلامي مالي وسيلو پراختيا کولی شي اقتصادي وده رامنځته کړي او د بېوزلو ملاتړ ته عملي بڼه ورکړي. اسلامي مالي اصول د شفافيت او حساب ورکونې اصل ته ځانګړې توجه لري. رشوت، درغلي او احتکار د اقتصادي فساد اساسي عوامل دي، چې اسلامي شريعت يې سخت منع کوي. که معاصر مالي نظام د دې اصولو پر اساس اصلاح شي، نو اقتصادي ثبات، د توليد پراختيا او د ټولنيزو نابرابريو کمښت ته به زمينه برابره شي.

د اسلامي اقتصاد له نظره عادلانه بازار

اسلامي اقتصاد د عادلانه بازار مفهوم پر شفافيت، اخلاقي سوداګرۍ او عادلانه سيالۍ ولاړ ګڼي. دا بازار بايد داسې وي چې په کې هر سوداګر، توليدوونکی او مصرفوونکی د اسلام له اصولو سره سم عمل وکړي. د عادلانه بازار يو مهم اصل دا دی چې قيمتونه بايد د طبيعي عرضې او تقاضا پر اساس تنظيم شي، نه د احتکار، درغلۍ، يا مصنوعي نرخونو له لارې. اسلام ذخيره اندوزي (احتکار) او نرخونو ته قصدي لاسوهنه حرامه بللې، ځکه چې دا چاره د ټولنې اقتصادي توازن خرابوي. رسول الله ﷺ فرمايلي: "څوک چې خوراکي توکي ذخيره کړي، هغه ګناهکار دی." (مسلم)

په اسلامي بازار کې بايد دوکه، درغلي او سودي معاملې نه وي. رسول الله ﷺ فرمايلي: "هغه څوک چې زموږ له خلکو دوکه وکړي، زموږ له ډلې نه دی." (مسلم) دا اصل تضمينوي چې تجارتي معاملات بايد په روښتيا سره ترسره شي، څو ټولنه له مالي ظلم او استثمار څخه وساتل شي.

اسلامي اقتصاد د انحصار (مونوپولي) او بې عدالتې سيالۍ ضد دی، ځکه چې دا چاره بازار خرابوي او د پانګوالو، توليدوونکو او مصرفوونکو ترمنځ عدم توازن رامنځته کوي. په اسلامي بازار کې بايد د ټولو خلکو لپاره مساوي اقتصادي فرصتونه وي، څو هر وګړی د خپلې حلالې ګټې زمينه ولري. د عادلانه بازار بله مهمه ځانګړنه دا ده چې توليدوونکي بايد د خلکو اړتياوې په نظر کې ونيسي او توکي بايد په صادقانه ډول عرضه کړي. درغلي، کيفيتي نيمګړتياوې او د غلطو معلوماتو خپرول د بازار اصولو ته زيان رسوي. قرآن کريم فرمايي: "او په اندازه کې کمښت مه کوئ او خلکو ته د دوی شيان پوره ورکړئ." (الأنعام: ۱۵۲)

په معاصر اقتصاد کې د عادلانه بازار لپاره اړينه ده چې اسلامي اصولو ته بيا کتنه وشي، داسې پاليسۍ جوړې شي چې د ټولنيز عدل، اقتصادي سوکالۍ، او مالي شفافيت ضمانت وکړي. دا چاره د اسلامي اقتصادي نظام بنسټي هدف دی، چې په کې ټولنيز عدالت، عادلانه سوداګري او د افرادو متوازن اقتصادي وده تضمين شي.

د اسلامي بانکدارۍ ګټې او ننګونې

اسلامي بانکداري له سود څخه پاک مالي سيستم دی، چې د اسلامي اصولو پر بنسټ ولاړ دی. دا سيستم هڅه کوي چې عادلانه اقتصادي وده يقيني کړي، پانګه وال او ټولنه له استثمار څخه وساتي او د مالي ثبات لپاره شرعي ميکانېزمونه رامنځته کړي. د اسلامي بانکدارۍ يوه لويه ګټه دا ده چې دا د سود (ربا) له ستونزې خلاص مالي چاپېريال وړاندې کوي. سود د اقتصادي نابرابرۍ، احتکار او مالي ناانصافي سبب ګرځي. اسلامي بانکونه د سود پر ځای د ګټې او زيان پر اساس مشارکتي مالي معاملې ترسره کوي، چې په کې پانګه وال، بانک او سوداګر يو له بل سره عادلانه همکاري کوي. دا چاره مالي خطر عادلانه وېشي او له يو اړخيز استثمار څخه مخنيوی کوي. بله مهمه ګټه دا ده چې اسلامي بانکداري د شفافيت او اخلاقي سوداګرۍ اصل ته ژمنه ده. ټولې مالي معاملې بايد واقعي شتمنۍ او حقيقي اقتصادي فعاليت ته تړاو ولري. دا اصل د مالي بحرانونو خطر کموي، ځکه چې بانکونه د غير واقعي مالي سوداګرۍ (سپيکوليټيو ټرانسکشنونو) او ناسمې پانګونې څخه ډډه کوي. د اسلامي بانکدارۍ ستره ننګونه دا ده چې معاصر مالي سيستم د سود پر بنسټ جوړ شوی او اسلامي مالي بنسټونه له نړيوال بازار سره د مطابقت ستونزې لري. د نړيوال اقتصادي چاپېريال فشارونه، د اسلامي مالي وسايلو محدوديت او د شريعت موافق مالي چوکاټ د نه پراخوالي له امله، اسلامي بانکونه د سيالۍ له جدي خنډونو سره مخ دي. بله ننګونه د اسلامي بانکدارۍ د اصولو د تطبيق پېچلتيا ده. که څه هم نظري بڼه يې واضحه ده، خو عملي پلي‌کېدل يې ځينې وختونه ستونزمن وي. د مثال په توګه، د ګټې او زيان پر اساس مشارکتي تړونونه د مالي نظام زيات تنظيمات (ريګولېشن) او شفافيت ته اړتيا لري، چې د ځينو هېوادونو په مالي سيستمونو کې دا معيارونه لا پوره شوي نه دي. اسلامي بانکونه لا هم د عامو خلکو د پوهاوي او باور اړتيا لري. د ډېرو خلکو لپاره دا مالي سيستم نوی دی، او دوی ته دا وضاحت ورکول ضروري دي چې دا سيستم څنګه کار کوي، کوم ډول مالي وسايل وړاندې کوي او څنګه له معاصر اقتصاد سره تطبيق مومي.

د اسلامي بانکدارۍ د ودې لپاره اړينه ده چې د اسلامي مالي وسايلو تنوع زياته شي، شرعي نظارت قوي شي، د نړيوال مالي بازار سره د اسلامي مالي بنسټونو همغږي رامنځته شي او عامه پوهاوی زيات شي. دا اقدامات کولی شي اسلامي بانکداري لا پراخه کړي او د معاصر اقتصاد لپاره يې يو عملي بديل وګرځوي.

په پای کې بايد ووايم چې اسلامي اقتصاد يو عادلانه او متوازن نظام دی چې د شريعت پر اصولو ولاړ دی. دا نظام د فرد، ټولنې او دولت ترمنځ د اقتصادي تعاملاتو لپاره اخلاقي چوکاټ برابروي. د سود (ربا) منع، د زکات، وقف او صدقې نظام او د بازار د عادلانه اصولو رعايت، هغه اساسي عناصر دي چې اسلامي اقتصاد ته ثبات او عدالت بښي.

د معاصر مالي نظام اصلاح ته اسلامي حللارې د اخلاقي مالي چارو، غير سودي بانکدارۍ او د عادلانه بازار اصولو ته وده ورکوي. اسلامي بانکداري که څه هم له يو شمېر ننګونو سره مخ ده، خو اسلام دا ثابته کړې چې دا نظام د مالي ثبات لپاره بديل حل وړاندې کولی شي.

د اسلامي اقتصاد اصلي هدف دا دی چې د فرد او ټولنې ترمنځ اقتصادي انصاف تأمين کړي، د استثمار مخه ونيسي او ټولنيز عدالت رامنځته کړي. که څه هم د معاصر اقتصاد ځينې ستونزې شته، خو اسلامي حللارې کولی شي چې د شفافيت، اخلاقي تجارت او ټولنيز مسؤليت له لارې د يوې عادلانه او پايدارې اقتصادي ودې لپاره لار هواره کړي.

روابط دوجانبه افغانستان و عمان؛ فصل جدید همکاری‌ها

رحمت‌الله فیضان

در سیاست بین‌الملل، روابط میان دولت‌ها که بر اساس احترام متقابل و منافع مشترک استوار باشد، اساس مهم سیاست خارجی هر کشور را تشکیل می‌دهد. امارت اسلامی افغانستان از زمان به‌دست‌گرفتن قدرت تلاش کرده است تا روابطی متوازن، فعال و مبتنی بر همکاری را با کشورهای منطقه و جهان برقرار کند. در همین راستا، سفر وزیر امور خارجه افغانستان، مولوی امیرخان متقی، به عمان از اهمیت خاصی برخوردار است، زیرا نه‌تنها زمینه‌های جدیدی را برای توسعه روابط سیاسی، اقتصادی و اجتماعی بین دو کشور فراهم می‌کند، بلکه گامی مهم در جهت تثبیت جایگاه بین‌المللی افغانستان نیز محسوب می‌شود.

وزیر امور خارجه، مولوی امیرخان متقی، در مسقط با وزیر امور خارجه سلطنت عمان، بدر بن حمد البوسعیدی، دیدار کرد. این دیدار که نشانه‌ای از تداوم تعاملات سیاسی است، مرحله جدیدی از روابط دوجانبه را میان دو کشور رقم می‌زند. بی‌تردید، چنین تعاملات دیپلوماتیکی نه‌تنها از انزوای بین‌المللی افغانستان جلوگیری می‌کند، بلکه به ایجاد فضای اعتماد و گسترش همکاری‌های سیاسی کمک شایانی می‌کند.

در این نشست، طرفین درباره تقویت روابط دوجانبه سیاسی، اقتصادی و اجتماعی به‌طور مفصل بحث و تبادل نظر کردند. وزیر امور خارجه افغانستان بر اهمیت ایجاد روابط متوازن با کشورهای منطقه و جهان تأکید کرد و سیاست صلح‌آمیز و مبتنی بر احترام متقابل را اصل اساسی سیاست خارجی افغانستان دانست. از سوی دیگر، وزیر امور خارجه عمان تأکید کرد که کشورش همواره از ثبات، رفاه و توسعه افغانستان حمایت کرده و خواهان گسترش روابط خود با این کشور است.

علاوه بر روابط دیپلوماتیک، همکاری‌های اقتصادی بخش اساسی سیاست خارجی هر کشور را تشکیل می‌دهد. افغانستان پس از دهه‌ها جنگ، اکنون در تلاش است تا اقتصاد خود را بازسازی کند، سرمایه‌گذاران را جذب نماید و فرصت‌های تجاری خود را گسترش دهد. وزیر امور خارجه از عمانی خواست که به تسهیل تجارت دوجانبه، صادرات افغانستان، فراهم‌آوردن فرصت‌های سرمایه‌گذاری برای سرمایه‌گذاران عمانی و تسهیل صدور ویزا توجه ویژه داشته باشد.

عمان که یکی از مراکز مهم اقتصادی در منطقه خلیج محسوب می‌شود، می‌تواند شریک تجاری مهمی برای افغانستان باشد. توسعه روابط تجاری بین دو کشور این امکان را فراهم می‌کند که تاجران افغان محصولات خود را از طریق عمان به بازارهای جهانی صادر کنند. علاوه بر این، گسترش همکاری‌های اقتصادی، فرصت‌های مشترک بیشتری را برای هر دو کشور ایجاد خواهد کرد، به‌ویژه در زمینه امنیت غذایی، تجارت و سرمایه‌گذاری.

وزیر امور خارجه افغانستان از طریق این سفر پیامی روشن به جهان فرستاد که امارت اسلامی خواهان روابط مبتنی بر احترام متقابل و همکاری با جامعه بین‌الملل است. در همین راستا، وزیر امور خارجه عمان نیز حمایت خود را از پیوستن افغانستان به جامعه جهانی ابراز کرد که این امر نشان‌دهنده پذیرش تدریجی نقش جدید افغانستان در عرصه بین‌المللی است. در سیاست بین‌الملل، کشورهایی از جایگاه و احترام بیشتری برخوردار اند که به اصول حاکمیت ملی سایر کشورها احترام بگذارند، با همسایگان و کشورهای منطقه روابط حسنه برقرار کنند و به اصول تعامل متقابل پایبند باشند. گسترش همکاری‌های سیاسی و اقتصادی میان افغانستان و عمان نه‌تنها برای هر دو کشور مفید خواهد بود، بلکه گامی مهم در جهت ارتقای اعتبار بین‌المللی افغانستان نیز محسوب می‌شود.

سفر مولوی امیرخان متقی از نظر سیاسی، اقتصادی و دیپلوماتیک یک گام مهم برای افغانستان به شمار می‌رود. این دیدار نشان داد که افغانستان منزوی نشده، بلکه تلاش دارد از طریق سیاست خارجی متوازن، تعامل خود را با جهان گسترش دهد.

سلطنت عمان که به دلیل سیاست معتدل خود با کشورهای منطقه و جهان روابط حسنه‌ای دارد، می‌تواند نقش ارزشمندی در گسترش همکاری‌های دیپلوماتیک، اقتصادی و تجاری با افغانستان ایفا کند. نتیجه این سفر آن شد که هر دو کشور متعهد شدند برای گسترش همکاری‌های دوجانبه تلاش کنند تا روابط مبتنی بر منافع مشترک بیش از پیش تقویت شود.

روژه د نېکيو مياشت ده

ژباړه او وضاحت: مولوي نورالحق مظهري



روژه د نېکيو مياشت ده؛ په روژه کې بايد تر بل هر وخت انسان پر نېکيو باندې ډېر کوښښ وکړي ځکه په دې مياشت کې نېکۍ څو برابره حسابېږي او نسبت و بل وخت ته يې قبوليت هم حتمي وي.

نېکۍ پر دوه ډوله دي ظاهري نېکۍ او معنوي نيکۍ؛ په روژه کې بايد انسان دواړه ډولونه د نېکيو په ډېره لوړه پيمانه ترسره کړي.

ظاهري نېکۍ او ښېګڼې:

لکه لمونځ، زکاة، روژه، حج، جهاد في سبيل الله، د مور او پلار سره نېکي، صله رحمي، اصلاح ذات البين، مساکينو او اړو انسانانو ته خواړه ورکول، د سنت سلام خپرول، د شپې لمونځ کول او داسې نور...

معنوي نيکۍ او ښېګڼې:

لکه شجاعت، عفت، صدق، وفاء، امانت، اخلاص، حلم، تواضع، کرم، صبر، د انساني ضمير پاکي، د خلکو ښه کولو ته تشويق کول، عدل او احسان، او نور داسې شيان چې د امت لپاره اوس او يا په را روان وخت کې ګټمن وي او په قرآن، حديث، اجماع او فقهي استنباطاتو باندې ثابت وي.

د نېکۍ ګټې:

۱ - په نېکۍ باندې سړی جنت ته رسېدلای شي.

۲ - په نېکۍ باندې د انسان عمر ډېرېږي.

۳ - په نېکۍ باندې د انسان په مال او اولاد کې برکت پيدا کېږي.

۴ - نېکي د دنيوي او اخروي نېکمرغۍ سبب ده بناءً په نېکۍ باندې انسان د دنيا او آخرت نېکمرغي لاسته را ورلای شي.

۵ - نېکي د انسان د ښې خاتمې لپاره دليل دی.

۶ - په نېکۍ باندې انسان د الله پاک او انسانانو محبت تر لاسه کولای شي.

۷ - په نېکۍ باندې په ټولنه کې محبت او الفت پيدا کېږي.

۸ - په نېکۍ باندې مسلمان تاجر د قيامت په ورځ د فجارو د ټولۍ څخه وځي.

۹ - د نېکۍ په کوونکو يعني په نېکانو خلکو باندې ځمکه آباده وي لکه په فجارو خلکو چې ځمکه خرابه وي.

۱۰ - په نېکۍ باندې انسان د قيامت د ورځې د عذاب څخه نجات موندلای شي.

۱۱ - نېکي هغه صفت دی چې ښه اخلاق د انسان ورباندې کاملېږي او انسان و لوړو درجو ته د رسېدنولۍ رسوي.

۱۲ - په نېکۍ باندې سرګردان او حيران نفسونه اطمينان پيدا کوي.

۱۳ - په نېکۍ باندې وېرېدونکې زړونه آرام او سکون پيدا کوي.

۱۴ - په نېکۍ باندې ټولنه ټينګښت پيدا کوي.

منبع: تحف رمضانيه

روژه د برکت او رحمتونو مياشت

مولوي ضياءالحق حسان - نهمه برخه

روژه په اسلام کې مهم عبادت دی، دغه د صبر او تقوی درس ورکوي، روژه ځينې ځانګړتياوې لري چې په لاندې ډول دي:

د روژې ځانګړتياوې:

۱–روژه د اسلام له ارکانو څخه ده، تر هغه د يو چا ايمان پوره نه دی چې د دې مياشتې په فرضيت عقيده ونه لري، نبي کريم صلی الله عليه وسلم په حديث کې فرمايي: اسلام په پنځو ستنو ولاړ دی، ګواهي ورکول چې د عبادت لايق يوازې الله تعالی دی او محمد صلی الله عليه وسلم يې بنده او رسول دی، د لمانځه قائمول، د زکاة ورکول، د بيت الله حج او د رمضان روژه.

۲– د رمضان مياشت کې روژه او د شپې لمونځ کول دلالت کوي په رښتيني ايمان د کوونکي او اخلاص باندې له همدې امله زيری ورکړل شوی د مخکنيو ګناهونو په ښښنې باندې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي: چا چې د رمضان روژه ونيوله ايمان يې په الله و او د ثواب نيت يې و مخکيني ګناهونه به ورته وبښل شي او چا چې قيام الليل(د شپې لمونځ) وکړ ايمان يې په الله او نيت يې د ثواب و مخکيني ګناهونه به ورته وبښل شي.

۳– د روژې له اجر سره د يوه عمل اجر هم نه شي برابرېدلای، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: د بني آدم عمل اضافه کېږي، نيکي يې لس چنده ان تر اووه سوه پورې، الله تعالی فرمايي: مګر روژه داسې نه ده هغه زما لپاره ده او اجر يې زه ورکوم هغه خوندونه او خوراک زما له امله پرېښي.

٤–روژه د نفس ساتنه کوي له نفسي خواهشاتو نه په دنيا کې او د الله تعالی له عذاب نه په آخرت کې، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: روژه ډال ده.

(الصوم جنة) جلد ۱ صفحه ۳۳

نور بيا

قرارداد ساخت فاز دوم ...

دهات بر تسريع روند ساخت اين سرک تأکيد کرده‌اند.

گفتنی‌است که واخان از بخش‌های دور افتاده و در عين حال استراتيژيک ولايت بدخشان در شمال‌شرق کشور است که افغانستان را با چين وصل کرده است.

پيش از اين فاز نخست اين سرک بطول ۵۱ کيلومتر از سوی وزارت احياء و انکشاف دهات، ساخته شده است.

افغان اعلانات

اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

وزارت اطلاعات و فرهنگ به تعداد (۱٦۰) قلم داغمه جات خويش را به تاريخ ۱٤۰۳/۱۲/۲۸ در محضر هيئت ذيربط با تنزيل ده فيصد ليلام می نمايند اشخاص موسسات شرکت های داخلی و خصوصی که خواهش خريداری آن را داشته باشند در خواستی شان را برياست محترم مالی و اداری مديريت عمومی محاسبه اجناس اين وزارت در چهارراهی ملک اصغر مقابل وزارت امور خارجه، تعمير اسبق وزارت دولت در امور پارلمانی بسپارند مشخصات وسايط را ملاحظه کرده پانزده فيصد تضمين طور پيش پرداخت اخذ ميگردد.

اعلان داوطلبی

موضوع: اعلان داوطلبی تهيه و تدارک(۸) قلم مواد خوراکه حيوانی باکيفيت ضرورت مديريت خدمات وترنری و زراعت معينيت تامينات تکنالوژی و لوژستيک از بابت سال مالی ۱٤۰٤.

رياست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در پروسه داوطلبی پروژه تهيه و تدارک(۸) قلم مواد خوراکه حيوانی باکيفيت ضرورت مديريت خدمات وترنری و زراعت معينيت تامينات تکنالوژی و لوژستيک از بابت سال مالی ۱٤۰٤ دارای شماره داوطلبی(وزارت دفاع ملی-۱٤۰٤-اجناس-۰۰۲۸-۲۲۷۰۸) از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع اشتراک نموده و آفرهای سربسته خويش را مطابق شرايط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقويمی ارائه نمايند. ازتاريخ نشراعلان به روز(۲۲) تقويمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ ميگردد و آفرهای دير رسيده و انترنتی قابل پذيرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان می توانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDويا فلش) ازتاريخ نشراعلان الی بيست ويک يوم تقويمی به روزهای رسمی ازشروع رسميات الی ختم رسميات از رياست تدارکات واقع خواجه بغرا مقيم گارد سابقه ناحيه ۱۵ شهر کابل دريافت نمايند همچنان داوطلبان ميتوانند شرطنامه را ازويب سايت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقايسه نموده واطمينان خويش را حاصل نمايند.

تضمين آفر: بشکل گرانتی بانک مبلغ(۳۵۰,۰۰۰) سه صد و پنجاه هزار افغانی ميباشد.

تضمين آفر در نسخه اصلی تسليم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نيست، صرف تضمين بانکی قابل تطبيق ميباشد. ضمانت بانکی بايد مدت ۲۸ روز بيشتر از مدت اعتبار آفر باشد, يعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاريخ بازگشايی آفرها قابل اعتبار می باشد.

محل آفرگشايی: تالار آفرگشائی رياست تدارکات واقع خواجه بغرا مقيم گارد سابقه ناحيه ۱۵ شهر کابل.

نوت:از داوطلبان محترم خواهشمنديم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسليمی آفراسناد توانمندی مالی تضمين آفر وسايراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسليم نمايند.

***

اطلاعيه فروش موتر

اسامی محترم شرکت ولکزی لمتيد يک عراده موتر پليت ۳۵۹۹۳-۳ ش کابل نوع تيوتا کرولا غرفه دار خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای محمد نصير فرزند محمد وکيل بفروش رسانيده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند.

۹۷۷۸

***

موضوع: نشر اعلان مزايده منزل دوم تعمير بالای دکاکين ولايت غور:

((محترم سيد گل ولد سيد احمد، يکباب تعمير منزل دوم بالای دکاکين ولا يت غور ملکيت شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان را که دارای يکباب اتاق، يکباب آشپزخانه، يکباب حمام و يکباب تشناب ميباشد بطور قرار داد به اجاره ميگيرد.

افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش مزايده را داشته باشند با ارائه درخواستی شرطنامه داوطلبی (مزايده) دکاکين متذکره را اعتبار از تاريخ نشر اعلان هذا الی (۱٤) روز تقويمی از مديريت نفت و گاز ولا يت غور و يا از دفتر مرکزی شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خيرخانه بدست آورده خودشان به روز معينه جهت اشتراک در جلسه آفرگشايی مراجعه نمايند. برطبق شرطنامه تأمينات اخذ ميگردد.))

ګرديز کې ټرافيکي پېښې ...

او باروړونکي موټرو ترمنځ د ټکر له امله رامنځته شوې.

د يادلو ده،په دغه ترافيکي پيښه کې دوه کسان هم ټپيان شوي،چې روغتيايي وضيعت يې د ډاډ وړ ښودل شوی ده.

پاکستان دې له بې بنسټه ...

ملکي وګړو ته په زيان اوښتو خواشيني څرګنده شوې ده. ياده دې شي چې څو ورځې وړاندې د بلوچستان په بولان کې د جعفر اېکسپرېس يو اورګاډي په ننبه کړی او شاوخوا ۴۰۰ سپاره يې برمته کړي وو.

عمان کې د افغان بنديانو ...

سره په غونډه کې هوکړه شوې، چې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ وزارتونو او خصوصي سکټور ترمنځ منظمې اړيکې رامنځ ته شي.

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت سرپرست د عمان د اوقافو او ديني چارو وزير ته ويلي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د جوماتونو، حجاجو او اوقافو تجربې شريکې شي او همدارنګه يې د ياد هېواد د اوقافو او ديني چارو وزير ته بلنه ورکړې، چې په افغانستان کې د جوماتونو د رغونې په برخه کې همکاري وکړي.

ديادونې وړ ده، چې مولوي اميرخان متقي د دې سفر په ترڅ کې د عمان اړوند مسئولينو سره د مېشتو افغانانو لپاره د کونسلي ستونزو په حل هم خبرې کړي دي.

در نظام امارت اسلامی هيچ کس ...

می‌شود، جای نگرانی از تلف شدن حق کسی نبايد وجود داشته باشد. مولوی ذبيح‌الله مجاهد تاکيد کرده حق هرکس بازخواست شده و برايش داده می‌شود.

از دو روز به اينسو يک ويديو از جريان لت‌وکوب و توهين دانش‌آموز يک مرکز آموزشی توسط استادش در برابر ده‌ها دانش‌آموز ديگر در کابل در شبکه‌های اجتماعی دست‌به‌دست می‌شد.

د ملي دفاع د سرپرست وزير په مشرۍ ...

هر اړخيز بحث او د يادو موضوعاتو د لا ښه تطبيق لپاره لازمې پرېکړې وشوې. د يادونې وړ ده، ياد کمېسيون پرېکړه کړې چې د امنيت، ثبات او ملي حاکميت د لا ټينګښت په موخه يادې چارې په دقت او جديت سره تعقيب شي.

يو بل سيلاني هم د اسلام مبارک ...

د اسلام په دين او ارزښتونو کې يې له ژورې پوهې وروسته دغه پرېکړه کړې ده.

دا په داسې مهال ده، چې څو ورځې وړاندې په ننګرهار کې هم يو کاناډايي ګرځندوی مسلمان شو او د محمد اکبر نوم ورته وټاکل شو.

افغانستان؛ ګرځندويانو سره ...

ته د تګ پر مهال حتمي د خپل سرومال د زيان په انديښنه کوي. په ټوله نړۍ کې د ګرځندويانو د شکونې، ربړونې او غلا پېښې شته او معمول دي؛ خو الحمدالله افغانستان کې د ګرځندويانو سرومال خوندي دی.

تازه په کندهار کې يو برېټانوی د اسلام د مبارک دين د حقيقت موندنې او پکې تر ژور غور وروسته مسلمان شوی. تر ده څو ورځې وړاندې ننګرهار کې يو کاناډايي وګړی د اسلام د مبين دين له اغېز او د افغان مجاهدينو او عامو وګړو له اخلاقو اغېزمن او مسلمان شوی. داسې څو نمونې نورې هم لرو. ټوله کې ويلی شو چې د ګرځندوی د ودې لپاره تر ټولو مهم شرط امنيت او خوندي چاپېريال دی چې الحمدالله دا شته. اوس پکار ده چې ددې صنعت ودې ته لاس په کار شو. ددې صنعت په ودې به مو له يوې خوا د عايد يوه غوښنه برخه پيدا کړې وي او له بلې خوا به مو نړۍ ته د افغانستان غوره انځور وړاندې کړی وي. مانا، هم به مو خرما ترلاسه کړې وي او هم ثواب.

يک شرکت جرمنی روی ساخت ...

جاده‌های مهم افغانستان بوده که اين وزارت پلان ساخت آن را دارد.

هنوز معلوم نيست که شرکت متذکره در ازای اين سرمايه‌گذاری خواهان چه نوع مواد معدنی افغانستان است.

اين در حالی است که در بيش از سه سال گذشته و با تامين امنيت و فرصت سرمايه‌گذاری در کشور فراهم و سرمايه‌گذاری خارجی در افغانستان افزايش يافته است.

شریعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنير عُزير بريالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat

Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: **WWW.shariatdaily.com**

Saturday 15 March 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 707

د ملي تدارکاتو کمېسیون ۲۵۲ پروژې منظورې کړې

د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت ملي تدارکاتو ادارې په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ۷۴ میلیارده افغانیو په ارزښت د ۲۵۲ پروژو له منظورېدو خبر ورکړی دی.
یاد معاونیت وايي، چې دغه پروژې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د مخابراتو، ترانسپورټ، برېښنا، روغتیا، اوبو مدیریت او په ګڼو نورو برخو کې منظورې شوې دي.
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په وینا، په منظور شویو پروژو کې زرګونه هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم د کار زمینه هم برابره شوې ده. د یادونې وړ ده، چې دا پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې، زېربنایي پرمختګ او عامه خدمتونو ته د لا ډېرو اسانتیاوو برابرولو لپاره یوه مهمه هڅه ده.

افغانستان د غوښې صادراتو ته چمتووالی نیسي

د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوي عطاالله عمري او د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي بهر ته د غوښې د صادراتو په تړاو مشورتي غونډه کړې ده.
په دې غونډه کې ښاغلي عمري ویلي، چې ۸۰ سلنه افغانان په کرنه او مالدارۍ بوخت دي؛ نو بهرنیو هېوادونو ته د غوښې صادرات ګټور تمامېدای شي.
د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست دغه راز ویلي، چې په دې برخه کې بېلابېلو هېوادونو له افغانستان سره سوداګرۍ ته لېوالتیا ښودلې؛ نو پر دې بنسټ باید لومړی د پسونو د روزنې کچه لوړه او صادراتو ته یې وړ شرایط برابر شي.
د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د خبر له مخې، په دې غونډه کې پرېکړه شوې چې د غوښې د صادراتو او د څارویو د پالنې د ودې لپاره دې یوه هراړخیزه طرحه جوړه او د ریاست الوزراء مقام ته دې واستول شي.

کندز کې د ستري پراختیايي پروژې بنسټ کېښودل شو

د کندز مقام د رسنیو دفتر د ۸۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ستري پراختیايي پروژې د چارو له پیل خبر ورکړی دی.
یاد مقام وايي، چې په دې پروژه کې مارکېټونه، تفریحي پارک او د کندز ښار د قهوه خاني سړک چارې شاملې دي.
د مسئولینو په وینا، چې دغې پروژې چارې به په دوو کلونو کې بشپړې شي.
یاده دې وي، چې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره په یاد ولایت کې د ګڼو سترو او کوچنیو پروژو چارې پیل او ګټې اخیستو ته سپارل شوې دي.

برای ده‌ها خانواده در کندهار آب آشامیدنی صحی فراهم می‌شود

کار ساخت یک شبکه آب‌رسانی صحی به ارزش شش میلیون افغانی در مربوطات ولایت کندهار آغاز شد.
به گفته این وزارت، این پروژه عام‌المنفعه در قریه شهید ملا منصور در ولسوالی میوند ولایت کندهار ساخته خواهد شد.

با تکمیل کار این شبکه آب‌رسانی، ۱۶۰ خانواده ساکن در این قریه به آب آشامیدنی صحی، دسترسی خواهند داشت.
در خبرنامه در مورد منبع تمویل این پروژه چیزی گفته نشده است.
این در حالی است که سه روز پیش نیز کار ساخت دو شبکه آب‌رسانی بیش از ۱۲ میلیون افغانی در ولایت غزنی آغاز شدند.

قرارداد ساخت فاز دوم سرک واخان در بدخشان امضا شد

وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، قرارداد ساخت فاز دوم سرک واخان بدخشان به ارزش ۱۳۴ میلیون افغانی امضا شد.
مقام‌های این وزارت در مراسم امضای قرارداد یادشده گفته‌اند که فاز دوم سرک واخان بطول ۷۱ کیلومتر قرار است ساخته شود.
به گفته آنان، هزینه ساخت فاز دوم سرک واخان از بودجه امارت اسلامی پرداخت می‌شود.
حین امضای قرارداد، مقام‌های وزارت احیاء و انکشاف ... ص۳

ابو نصر فراهي ګمرک کې امنیتي کمرې نصب شوې

د مالیې وزارت وايي، چې د فراه د ابو نصر فراهي په ګمرک کې په لومړي ځل ۳۲ دانې امنیتي کمرې نصب او له مرکز سره ونښلول شوې.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، دغه امنیتي کمرې د ګمرکونو لوی ریاست د تخنیکي کارکوونکو له لوري د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت نصب او فعاله شوې دي.
د یادولو ده، چې د مالیې وزارت له لوري د نیمروز، ننګرهار، اقینې، هرات او کندهار ګمرکونه هم په امنیتي کمرو پوښل شوې او له مرکز سره د فساد د مخنیوي په موخه ونښلول شوې دي.

ګردېز کې ټرافیکي پېښې د ۳ تنو ژوند اخیستی

د پکتیا امنیه قومنداني ویاند ویلي، چې د یاد ولایت مرکز ګردېز ښار اړوند بنوزیو سیمه کې د ترافیکي پېښې پرمهال د یوې مېرمنې په ګډون درېو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.
دغه پېښه ورمه شپه د ګردېز ښار د دریمې امنیتي حوزې اړوند د بنوزیو د زغني په سیمه کې د خوست -ګردېز پر عمومي لاره رامنځته شوې ده.
منیب څرګنده کړې، چې پېښه د یوې سراچه ډوله ... ۳مخ

د اورګاډي له برمته کېدو وروسته؛ بولان کې ۷ کارګر تښتول شوي

پاکستانیو رسنیو ویلي، چې د بلوچستان په بولان ولسوالۍ کې وسله والو د منجهون بند د ودانیزې پروژې ۷تنه کارګران نا معلوم ځای ته تښتولي دي.
بل‌پلو په یوې بله پېښه کې ناڅرګنده کسانو د کوټې کېچې بېک د پولیسو حوزې ته لاسي بمونه غورځولي، چې له امله یې د پولیسو یوه موټر اور اخیستی. دا په داسې مهال ده، چې دوه ورځې وړاندې د بلوچ بیلتونپالو د اېکسپرېس پر رېل ګاډي برید کړی و، چې په پایله کې یې سلګونه کسان برمته کړل.

اذربایجان او ارمنستان د سولې تړون ته نږدې شوي

اذربایجان او ارمنستان دواړه هېوادونه د لسیزو راپدې خوا د جګړې ختمولو د حل لپاره خبرې پای ته رسولې او دواړو لوریو هوکړه کړې، چې د احتمالي تړون مسوده لاسلیک کړي. د اذربایجان د بهرنیو چارو وزیر جیحون بایراموف خبریالانو ته ویلي، چې له ارمنستان سره د سولې تړون مسودې خبرې بشپړې شوې او د ارمنستان غوښتنې یې هم منلې دي.
بل‌لور د ارمنستان لومړي وزیر نیکول پاشینیان دا یوه مهمه پېښه بللې او ویلي دي، چې هېواد یې سولې ته چمتو دی.

صهیونېست رژیم پر سوریې برید منلی

د اسراییلو صهیونېست رژیم د دفاع وزیر اسراییل کنټز د سوریې پر مرکز دمشق تېره ورځ برید تأیید کړ. کنټز ادعا کړې، چې په دې برید کې یې د فلسطین د اسلامي جهاد مجاهدینو د «جلب او ادارې مرکز» یې په نښه کړی دی. راپورونو د اسلامي جهاد د یوې سرچینې په حواله ویلي، چې صهیونېست رژیم یې په یوې ودانۍ برید کړی او یو شمېر کسان یې شهیدان او ژوبل کړي دي. د سوریې رسمي خبري اژانس «سانا» راپور ورکړی، چې په دې برید کې د یوې ښځې په ګډون درې ولسي خلک وژل شوي دي. د یادونې وړ ده، چې د فلسطین د اسلامي جهاد ډلې په غزه کې تر اوربند وړاندې د حماس تر څنګ د صهیونېست رژیم پر وړاندې جهاد کوه.

مسکو هم اوربند ته غاړه ایښې

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین په یوې خبري غونډه کې اعلان کړی چې په اوکراین کې یې ۳۰ ورځني اوربند لپاره د امریکا له وړاندیزونو سره موافقه ښودلې ده. ښاغلي پوتین ویلي چې مسکو د دښمنۍ ختمولو په پار د متحده ایالاتو له وړاندیزونو سره موافق دی او په دې شرط ۳۰ ورځنی اوربند مني چې د دایمي سولې لامل شي. مسکو مخکې ویلي و چې د اوربند او د سولې د خبرو په پار یو لړ شرطونه لري.